مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند ۲۰۱۸/۰۷/۰۳

# مات زړه

# (۲)



څو بې ګنډې، څو به پیوند ورکوې
د ماتونکو خولو ته خوند ورکوې

ته یې ګنډه، پیوندوه یې پسې
زړه ماتی څه، ټولو ته قند ورکوې

ثواب دغه چې مات زړګي رغوې
مینه همدا، ته یې څرګند ورکوې

چې ماتوي یې په کې کرکه شیندي
ته یې ګنډې او ته خورسند ورکوې

هغه چې مات کړ او تر پښو لاندې کړ
ته ټولوي، رتبه بلند ورکوې

هغه یې وژني او ژوندون ترې اخلي
خو ته ژوندون په هر یو بند ورکوې

هغوی چې مات کړ جهالت یې خپور کړ
خو ته سبق د دانشمند ورکوې

داسې به نه وي چې به ځای نه نیسي
هره بخیه کې ته لوی پند ورکوې

خود به خوږه وي خوله د ټولو مدام
د تریخ اوبې په ځای چې قند ورکوې

۲۰۱۸/۰۶/۰۲
هیدرسلیف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ